بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

مرکزي مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

جمعه، ۱۵ رجب ۱۴۴۰هـ | ۲۰۱۹/۰۳/۲۲م | د صدور ګڼه: ۱۴۴۰هـ/ ۰۲۷

مطبوعاتي اعلاميه

## خلافت به شرقي ترکستان آزاد او ایغور مسلمانان به د جنایتکار چین له ظلمونو وژغوري

(ژباړه)

د چین جنایتکارو رهبرانو ته د مسلمانانو د حاکمانو عاجزانه غبرګون، چې د شرقي ترکستان د مسلمانانو غوښتنو ته د ځواب ویلو او د هغوی د ملاتړ پر ځای ډالري قراردادونو ته ډېره ترجیح ورکوي، لا جرأت ورکړی او د چیني چارواکو د وحشتناکو جنایتونو پر وړاندې یې شرمووونکی سکوت غوره کړی، هغه چې له امله یې غواړي مسلمانان له خپله دینه بېل کړي. په داسې حال کې چې د اسلام دین په ډېر شور او شوق د هغوی زړونه د لومړی هجري پیړی له وروستیو هغه مهال چې د دوی نیکونو اسلامي عقیده خپله کړې، د اسلام د هدایت په نور روښانه کړي دي.

په داسې حال کې چې چیني چارواکي په مختلفو وحشیانه طریقو هڅه کوي چې مسلمانان له خپل دینه د اوښتو په موخه په فتنه کې واچوي. له همدې امله شعایرو او مساجدو ته د تګ مخنیوی، د جوماتونو تړل، په رمضان مبارکه میاشت کې له روژې نیولو منعه کول او آن د هر ډول اسلامي ښکارندو پر وړاندې مبارزه کوي. تر هغه چې په دې وروستیو کې یې له «تروریزم سره د مبارزې» په موخه د «بیا روزنې» د دروغجن شعار په نامه ستر مرکزونه جوړ کړي، چې تر یو میلیون زیات مسلمانان یې د دیوالو تر شا بندیان دي. حال دا چې مفکرین، پوهان او د پوهنتون استادان یې پکې بندیان کړي. دا ډول اعمال د مسلمانانو په زړونو کې د وحشت او وېرې د خورولو په موخه پلان شوي، ترڅو هغوی د اسلام د ستر دین له پیروۍ واړوي. انټلیجنس مجلې د چین دولت اعلامیه خپره کړې، چې پکې څرګنده شوې، "اسلام یوه ساري ناروغي ده او له هرې لارې چې کېږي ـ حتی شکنجې او قتل ـ باید مخه یې ونیول شي". د بشري حقونو د څار سازمان راپور ورکړی چې چیني چارواکي د رواني او جسمي شکنجو او تهدید له لارې مسلمانان اسلام پرېښودو ته اړباسي. د بي‌بي‌سي د راپور پر اساس چیني چارواکي ادعا کوي چې هغوی له درې اړخیز شر سره مبارزې ته مجبور دي: «تروریزم»، «افراطي ایډیولوژي» او بېلتون غوښتنه. په دا ډول دروغجنو شعارونو چیني چارواکي له بېلابېلو ځپونکو لارو چارو کار اخلي.

په داسې حال کې چې چیني چارواکي د ایغور مسلمانانو په حق کې هر ډول شکنجه او تعذیب عملي کوي، خو د مسلمانانو د حاکمانو لخوا له بې تفاوتۍ او په جنایت کې له هغوی سره له همکارۍ او دسیسې پرته بل څه نه وینې؛ د اندونیزیا د ولسمشر مرستیال یوسف کالا په ګډون چې د ۲۰۱۸/۱۲/۱۷ یې ویلي وو چې د اندونیزیا دولت په کورنیو ستونزو کې، چې د شرقي ترکستان ایغور مسلمان ترې ځوریږي، مداخله نه شي کولی او دا ټینګار یې هم وکړ چې دغه مسئله د چین په حاکمیت پورې اړه لري. په حقیقت کې هغو ډالرو چې چین په اندونیزیا، مالیزیا او پاکستان کې پانګونه ورباندې کړې او له چین سره د دوی تجارتي اړیکو د مسلمانانو د حاکمانو خولې تړلې دي، ترڅو د الله متعال د دستور سره سم، چې د شرقي ترکستان د ایغور مسلمانانو ملاتړ یې ورباندې فرض کړی، عمل ونه شي کړی.

موږ تصدیقوو چې دغه روبیضه (احمق او خاین) رهبران د اسلامي امت استازولي نه شي کولی. موږ د چین حاکمانو ته د امت د قهر په اړه خبرداری ورکوو، چې ډېر ژر به د خپل پروردګار په دستور اقدام وکړي او د دغو حاکمانو موانع به له منځه یوسي او له هغو کسانو څخه به غچ واخلي چې د شرقي ترکستان، میانمار، کشمیر، فلسطین او نورو اسلامي خاورو په حق کې یې خپل ظلم او جنایت نه دی سپمولی.

د چین رهبران باید د خپلو پخوانیو له برخلیکه د عبرت درس واخلي، چې د مسلمانانو د یوځ قهرمان سپه سالار او نه ویرېدونکي رهبر قتیبه بن مسلم چین ته د ننوتو قسم یاد کړ، خو هغوی د تېښتې او لارې لټولو څخه عاجز پاتې شول. د چین امپراتور خپل وزیران او پلاوی ورواستوه: هغوی ورته وویل: «زموږ خاورې ته مه راځئ، هرڅه چې غواړئ موږ تاسو راضي کوو، هر څومره جزیه چې غواړئ درکوو یې.» ده ورته وویل: ما قسم خوړلی چې د چین خاورې ته به ننوځم. هغوی وویل: «موږ هغه څه درکوو چې ستاسو قسم ورباندې رفع شي.» نو پر دغه اساس د چین د امپراتور پلاوي د چین له ځمکې خاوره راواخیسته او قتیبه ته یې وړ وړه او هغه ورباندې ودرېده او د دوی د حقارت او ذلت په حالت کې یې جزیه ترې واخیسته.

مسلمانان هېڅکله د ذلت په اوږده خوب نه ویده کیږي او دا بې‌عدالتي نه هېروي. هغه کړکېچ چې دوی پکې ښکېل دي، د دوبې د تلونکې وریځې په څېر دی، چې تېرېږي. د نبوت پر منهج راشده خلافت ډېر ژر د الله سبحانه وتعالی په اذن قایمېدونکی دی، په شرقي ترکستان کې به زموږ د مظلومو ورونو ملاتړ وکړي او هغوی ته به ستره فتحه ډالۍ کړي او له ټولو هغو کسانو سره به حساب وکړي، چې له دوی سره یې ظلم کړی او تېری یې ورباندې کړی. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «**إِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ**» یعنې: امام هغه ډال دی چې تر شا یې جګړه کوئ او ځان ورباندې ساتئ. هغه مهال به بیا چین او نه نور جرأت وکړي چې یوه مسلمان ته زیان ورسوي، ځکه یوه به شي چې هر کار وکړي، دوه برابره به یې تر لاسه کوي. الله قوي او عزیز «قدرتمند» دی.

**ډاکټر عثمان بخاش**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر رییس**

المكتب الإعلامي المركزي حزب التحرير HIZB-UT-TAHRIR Central Media Office

**تلیفون/فکس**: 009611307594 **موبایل**: 0096171724043

**برېښنالیک**: media@hizb-ut-tahrir.info

**د حزب التحریر وېبپاڼه**
www.hizb-ut-tahrir.org

**د مرکزي مطبوعاتي دفتر وېبپاڼه**
www.hizb-ut-tahrir.info